# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۷مه | دویم کال| ۳۳۵مه گڼه


## حامد کرزی: امریکا دې له افغان سولې د سیمه ییزو رقابتونو وسیله نه جوړوي



۳

### طالبان پاکستان ته ورځي، افغان حکومت څه کوي؟

۲ مخ

### د افغانستان د سولې په پروسه کې شته ابهامونه

۲ مخ

### عفونت ادراری در کودکان؛ علائم، دلایل و راه های درمان

۳ مخ

## پوهنتون


۴ مخ

### دعوت پوهنتون

دعوت پوهنتون د ۴۰۰ په شاوخوا کې کورني او بهرني استادان لري، چې له ډلې یې ۳۰ دوکتور، ډېرى یې ماستر او کم شمېر یې لیسانس دي.



## مسوولین: سږ کال د تېر په پرتله د افغاني غالیو صادرات ډېر شوي دي



د غالیو او فرشونو د خرڅلاو مرکز وايي، په ۲۰۱۸ ز کال کې له شپږو تر اوو زرو مترو پورې افغاني غالۍ نړیوالو بازارونو ته صادرې شوې دي.
د دغه مرکز مشر سید عبیدالله سادات پرون ازادي راډیو ته ویلي چې دا رقم د ۲۰۱۷ ز کال په پرتله د افغاني غالیو د صادراتو په برخه کې زیاتوالی ښیي.
د ښاغلي سادات په خبره، افغاني غالۍ تر ډېره امریکا، دُبۍ، هندوستان، جرمني او لندن ته صادرېږي.
نوموړي دا هم ویلي چې په ۲۰۱۹ ز کال کې به د غالیو تولیدات ۱۳ زرو مترو ته ورسېږي چې له اوو تر اتو زرو به یې نورو هېوادونو ته صادرې شي.
دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۸ ز کال کې یې لس زره متره تولیدات درلودل.
افغاني غالۍ په نړیوالو بازارونو کې ننداړتون ته وړاندې کېږي او ښه بازار لري.

## افغان حکومت پاکستان ته د طالب استازو د سفر په اړه ملګرو ملتونو ته رسماً شکایت کړی

افغان حکومت پاکستان ته د طالبانو د مذاکراتي ټیم د استازو پر اعلان شوي سفر ملګرو ملتونو ته رسماً شکایت کړی دی. بي بي سي د هغه رسمي لیک متن ترلاسه کړی چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازولۍ په دې اړه د امنیت شورا د بندیزونو ځانګړې کمېټې ته استولی دی.
په دغه لیک کې ویل شوي چې پاکستان ته د طالب استازو د اعلان شوي احتمالي سفر په اړه له افغان حکومت سره هېڅ ډول سلا مشوره نه ده شوې او د طالبانو سره د پاکستاني چارواکو لیدنه به د دې ډلې په رسمیت پېژندنې په مانا وي.
په لیک کې راغلي چې طالبان د افغانستان سوله او ثبات ګواښي او پاکستان ته د تلونکي طالب پلاوي نهه غړي د ملګرو ملتونو د بندیزونو په ځانګړې نوملړ کې دي.
افغان حکومت په دغه لیک کې پاکستان ته د طالبانو د اعلان شوي سفر په اړه ویلي، دغو رپوټونو افغان دولت او خلک اندېښمن کړي دي.
په لیک کې د پاکستان پر حکومت غږ شوی چې د هغو ترهګرو ډلو پر ضد پرېکنده عمل وکړي چې د افغانستان، پاکستان او ټولې سیمې امنیت ګواښي.
د لیک په پای کې له امنیت شورا غوښتنه شوې چې د خپلو ټاکل شویو اصولو په رڼا کې د دې قضیې په اړه اړین ګامونه پورته کړي.
د یادونې ده چې وسله والو طالبانو تېره اونۍ اعلان وکړ چې په قطر کې د دوی د سیاسي دفتر هغه غړي به چې د دوی د مذاکراتي ټیم برخه دي، راتلونکې اونۍ پاکستان ته سفر کوي او هلته به له لومړي وزیر عمران خان سره ویني.

## ووټل: ښايي ۱۴۰۰ امریکايي سرتېري له افغانستانه وباسو




۳ مخ

## حمدالله محب: طالبان هدفی برای جنگیدن ندارند



حمدالله محب، مشاور شورای امنیت ملی رئیس‌جمهور می گوید که نیروهای امنیتی افغان برای یک هدف می جنگند، در حالی که گروه طالبان هدفی برای جنگیدن ندارند.
آقای محب که در یک گفت‌وگو در حاشیۀ نشست امنیتی مونیخ در آلمان، سخن می‌زد، تأکید کرد که طالبان هدف شان را از دست داده‌اند و نمی‌دانند برای چه می جنگند.
در این گفت‌وگو، جان کری، وزیر خارجۀ پیشین ایالات متحده، عبدالعزیز کاملوف، وزیرخارجۀ ازبکستان و شاه‌محمود قریشی، وزیر خارجۀ پاکستان نیز حضور داشتند.
وی افزود: «نیروهای امنیتی ما برای ۳۰۰ دالر معاش نمی‌جنگند. آنان، برای یک هدف مبارزه می کنند. آنان با پشتیبانی همکاران ما و میلیون‌ها افغان می‌جنگند تا از ارزش‌های ما دفاع کنند، در حالی که طالبان هدف شان برای جنگ را از دست داده‌اند و نمی‌دانند برای چه می جنگند».
به گفته ای محب: «سربازان ما قربانی می‌دهند و رسانه‌ها آن را تلفات نام می گذارند؛ آن‌ها تلفات نیستند، آن‌ها قربانی‌هایی استند که ما به نیابت از کشور خود برای حفظ آزادی، ارزش و حاکمیت می‌پردازیم و برای دفاع از آن ایستاده‌ایم».
این در حالی است که رئیس‌جمهور غنی، اخیراً گفته بود که در چهار سال حکومت وحدت ملی دست کم ۴۵ هزار نیروی امنیتی افغانستان در جمگ جاری در کشور کشته شده‌اند.
اما، مشاور امنیت ملی آقای غنی می‌افزاید که افغانستان امروز متفاوت از گذشته است. وی افزود: «افغانستان کشوری نیست که در سال ۲۰۰۲ بود. افغانستان مسیر درازی را پیموده است و اکنون یک کشور متفاوت است».




## دریــځ

## طالبان پاکستان ته ورځي، افغان حکومت څه کوي؟

ټاکل شوې چې د وسله والو طالبانو يو پلاوی سبا اسلام اباد ته ورشي او هلته له پاکستاني چارواکو سره پر سوله او ځينو نورو مسايلو خبرې وکړي. دا پلاوی له قطر څخه ورځي او طالبانو هم دا سفر په رسمي ډول تاييد کړی دی. پرون رويټرز اژانس ادعا کړې وه چې طالب استازي به د پاکستاني چارواکو ترڅنګ، د سعودي له وليعهد محمد بن سلمان سره هم وګوري.

له مسکو، تهران او ځينو نورو هېوادونو وروسته د طالبانو رسمي پلاوی له قطره اسلام اباد ته هم ورځي. که څه هم ډېر طالب چارواکي په پاکستاني کې دي، خو دا چې طالبان له قطره ورځي او دا سفر په رسمي ډول اعلانوي، دا ښيي چې وسله وال طالبان ډيپلوماسي کوي او په سيمه کې خپل فعال رول څرګندوي. طالبان په داسې حال کې له سيمې او نړۍ سره خپل روابط پراخوي، چې افغان حکومت له يوه اړخه له سيمه ييزې انزوا سره مخ دی او له بله اړخه د امريکا په نوښت په پيل شوو خبرو کې هم ځای نه لري او ټولې خبرې د امريکا او طالبانو ترمنځ روانې دي. د خبرو په يوه برخه کې ان افغان سياستوال ور ګډ شول، خو طالبان لا هم نه منې چې له حکومت سره به خبرې کوي.

روښانه ده چې پاکستان له قطري طالبانو ځينې غوښتنې لري، له همدې امله يې د سولې لپاره د ټاکل شوي مذاکراتي ټيم غړي هم قطر ته نه دي ور پرې ايښي او په قطر کې مېشت طالب استازي يې مجبور کړي چې اسلام اباد ته ورشي. طالبان غواړي د فبرورۍ د ۲۵مې له خبرو وړاندې، د دوی پلاوی بشپړ او پياوړی شي، نو ځکه پاکستان ته ورغلي او د پاکستان ځينو غوښتنو ته به مثبت ځواب وايي.

د سولې په روانه پروسه کې چې پيل يې امريکا کړی، وسله وال طالبان ګټه کوي. همداسې سيمه ييز هېوادونه هم په پروسه کې داسې ښکېل شوي چې ګټې به يې خوندي کېږي. پاکستان چې د لوبې برخه دی، غواړي پر طالبانو کنټرول او نفوذ ولري او غواړي امريکا هم راضي وساتي. تر اوسه پورې پاکستاني چارواکي دا خبره کوي چې د سولې خبرې د دوی په مرسته روانې دي او له همدې امله امريکا نه يوازې پر پاکستان نيوکې نه کوي، بلکې خوشاله ده. په دې ډول د افغانستان د سولې له پروسې امريکا، طالبان او سيمه ييز هېوادونه ګټه کوي، خو افغانستان په خبرو کې نشته او طبيعي ده چې نشتون يې زيانونه لري.

حکومت بايد لومړی ومنې چې دريځ يې ناسم او د افغانستان پر زيان دی. له هغه وروسته بايد له خلکو سره په مشوره يو داسې دريځ خپل کړي چې د سولې په روانه پروسه کې افغانان او افغانستان زيان ونه ويني. که حکومت د امريکا په نوښت په روانه پروسه شک لري، بايد هر څه له خلکو سره شريک کړي او د امريکا د دغو کړنو مخه ونيسي. که هر څه سم روان وي، نو بيا پکار ده چې خلکو ته ډاډ ورکړل شي او په دې تړاو د خلکو هيلو او اندېښنو ته ځواب وويل شي. حکومت بايد واضح کړي چې ورځ تر بلې زياتېدونکې انزوا يې د افغانستان لپاره څه ګټه لري او د طالبانو او پاکستان وروستۍ خبرې له سولې سره څه مرسته کوي؟

# د افغانستان د سولې په پروسه کې شته ابهامونه

**لیکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز**

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېره اونۍ د خپل هېواد کانګرېس ته په کلنۍ وينا کې وويل: «ما په افغانستان کې د يوې سياسي روغې جوړې لپاره خبرې اترې چټکې کړې دي. د امريکا حکومت په افغانستان کې د طالبانو په ګډون له مختلفو افغان ډلو سره رغنده خبرې لري او که دغو خبرو پرمختګ وکړ، بيا په افغانستان کې ځواکونه کمولی شو او تمرکز به له ترهګرۍ سره پر مبارزه وي».

د امريکا ولسمشر له دې وړاندې له (CBS) ټلوېزيون سره هم په يوه مرکه کې ويلي وو، چې له افغانستانه به خپل عسکر وباسي او په دغه هېواد کې به امريکا يوازې پر استخباراتي چارو تمرکز وکړي؛ خو د نوموړي د دې پرېکړې پر وړاندې د امريکا د سنا مجلس مخالفت کوي او هڅه يې دا ده چې ټرمپ له افغانستانه امريکايي عسکر ونه باسي. افغان ولسمشر هم د ټرمپ له دې پرېکړې ناخوښ ښکاري او هڅه کوي چې ټرمپ له خپلې پرېکړې واوړي؛ ځکه په قطر کې د طالب او امريکايي استازو له وروستيو خبرو اترو وروسته يې ټرمپ ته يو ليک لېږلی او له ټرمپ څخه يې غوښتنه کړې چې له افغانستانه خپل ټول سرتېري ونه باسي.

د افغان سولې په اړه که څه هم په اوسمهال کې تر بل هر وخت هيلې زياتې شوې دي؛ خو لا هم له افغانستانه د امريکايي سرتېرو د وتلو، افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو او راتلونکي نظام د څرنګوالي په اړه ځينې ابهامونه شته، چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

### د امريکا- طالبانو خبرې اترې

د امريکا او طالبانو ترمنځ له تېرو څلورو مياشتو راهيسې د افغان سولې په تړاو څو ځله مخامخ خبرې وشوې او د خبرو دا پروسه په خورا چټکۍ مخ ته روانه ده. که څه هم په ابوظبۍ کې د دواړو لورو ترمنځ له دريېمې ناستې را وروسته، د اجنډا پر سر د اختلاف له امله د لنډ مهال لپاره خبرې وځنډېدې، خو دا خبرې د دواړو لورو ترمنځ بېرته پيل شوې او په څلورمه ناسته کې په ډېرو موضوعاتو بحثونه وشول.

د څلورمې ناستې په اړه تمه دا وه، چې دواړه لورې به د بحثونو د پرمختګ په اړه ګډه اعلاميه خپره کړي؛ ځکه رسنيو په دغو خبرو کې د زيات پرمختګ او د مختلفو موضوعاتو په اړه (له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو مهالوېش، د بنديانو تبادله، اوربند، لنډمهاله حکومت، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو زمينه برابرول او د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته نورو ته له افغانستان څخه خطر نه پېښېدل) د يوې عمومي هوکړې په توګه خپاره کړل.

د قطر له ناستې وروسته زلمي خليلزاد له دغو خبرو خوښي وښوده او ويې ويل: «له طالبانو سره په شپږ ورځنيو خبرو کې رغنده او حياتي بحثونه وشول او په دغو بحثونو کې د پام وړ پرمختګونه هم شوي دي، خو تر اوسه کومه وروستۍ هوکړه نه ده شوې». طالبانو هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره وويل: «د مذاکراتو په دې پړاو کې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو پر وتلو او نورو مهمو مسايلو بحث او پرمختګ وشو».

له دې ټولو سره سره لا هم د سولې بهير له يو ډول ابهام سره مخ دی او ځانګړې لورې يې معلوم نه دي؛ ځکه له يوې خوا د سولې خبرې تر ډېره د بندو دروازو تر شا دي او جزيات يې څرګند نه دي، له بلې خوا له روانې پروسې سره د افغان حکومت مخالفت او له امريکا سره يې د اړيکو راتلونکی، هغه څه دي چې په اړه يې اندېښنې زياتې شوې دي.

### په خبرو کې مبهم ټکي

د افغانستان په څېر په يوه جګړه ځپلي هېواد کې د سولې هر ګام خلکو ته خورا هيله ښونکی ښکاري. د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې روانو خبرو ته هم افغانان خوښ دي او تمه يې دا ده چې همدا خبرې روانه جګړه پای ته ورسوي، خو په دغو خبرو کې لا هم لاندې څو موارد په يو ډول ابهام کې دي:

**لومړی:** په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو حضور د سولې پر وړاندې ستر خنډ بلل کېږي او په روانو خبرو کې هم تر ټولو مهمه موضوع ده، چې په اړه يې لا هم وروستۍ پرېکړه نه ده شوې. د امريکا کانګرېس ته د ټرمپ وروستۍ وينا او له دې وړاندې له (CBS) ټلوېزيون سره د نوموړي مرکه ښيي، چې امريکا له افغانستانه خپل سرتېري باسي، خو د امريکا د واکمن ولسمشر له دې پاليسۍ سره د امريکا د سنا مخالفت او خپله د ټرمپ د خبرو دا برخه چې وايي: «که ځواکونه باسي، نو پر استخباراتي چارو به تمرکز زياتوي.» هغه ټکي دي، چې په افغانستان کې يې د بهرنيانو حضور مبهم کړی دی.

**دويم:** د امريکا او طالبانو ترمنځ د خبرو روانې پروسې ته تر ډېره د پاکستان او امريکا د معاملې په سترګه کتل کېږي. پوښتنې دا دي چې ولې پاکستان له لسيزو وروسته د افغان سولې په اړه همکاري کوي؟ په دې برخه کې يې ګټې څه دي؟ ايا پاکستان ته څه ورکړل شوي چې همکاري وکړي؟ که ورکړل شوي دا يوازې د امريکا او پاکستان ترمنځ معامله ده او که د افغانستان په اړه هم له پاکستان سره معامله شوې؟ دا پوښتنې ځکه پيدا کېږي چې افغان ولسمشر په خپلو خبرو کې د ګندمک د معاهدې يادونه وکړه او په ټينګار سره يې وويل: «هېڅ مور داسې زوی نه دی زېږولی چې پر ما د ګندمک په شان تړون لاسليک کړي».

**درېيم:** د سولې په روانو خبرو کې افغان حکومت او طالبان د يو او بل خلاف درېځونه لري. طالبان نه غواړي له افغان حکومت سره خبرې وکړي او افغان حکومت له خپل حاکميت پرته د سولې هېڅ راز خبرې نه مني. په روانه پروسه کې يو بل ابهام همدا دی چې ايا د افغانستان د راتلونکي په تړاو به د امريکا او طالبانو ترمنځ تفاهم کېږي او که افغان حکومت به هم پکې ورګډېږي، يعنې د سولې په روانو خبرو کې به وروستی تصميم د امريکايانو او افغانانو ترمنځ وي او که يوازې د افغانانو ترمنځ وي؟ دا جدي مسله ده؛ ځکه که امريکا د افغان حکومت له دغه درېځه ملاتړ وکړي، ښايي طالبان يو ځل بيا له خبرو پر شا شي او که ملاتړ يې نه کوي، ښايي د کابل او واشنګټن ترمنځ اړيکې خرابې شي.

څلورم: د سولې په روانو خبرو کې طالبان د اساسي قانون د تعديل او په ټوليز ډول د نظام په جوړښت کې د اصلاحاتو خبرې کوي، خو د ابهام ټکی پکې دا دی چې ايا راتلونکی نظام به طالب محوره (لکه د ايران د اوسني نظام په شان چې د خپل هېواد د مذهبي مشرانو تر نفوذ لاندې دی) وي، چې نور ورسره ولاړ وي او که هر څوک کولای شي له يوې ټاکلې مودې وروسته د طالبانو له هر ډول نفوذ څخه پاک حکومت ترلاسه کړي؟


### پايله

د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې په روانو خبرو کې له افغانستانه د بهرنيانو وتل، تر ټولو مهمه موضوع ده چې طالبان يې په اړه کلک دريځ لري، خو د ټرمپ له وروستۍ وينا داسې ښکاري چې امريکا په دې لټه کې ده چې په يو ډول نه يو ډول خپل حضور په افغانستان کې وساتي. ښايي په افغانستان کې له اوسنيو شته زرګونو امريکايي سرتېرو څخه يې اکثريت له افغانستانه و ايستل شي، خو لکه څنګه چې ټرمپ وويل، امريکا به په افغانستان کې خپل استخباراتي کسان ساتي او هڅه يې دا ده چې پر طالبانو دا ومني او په راتلونکي کې هم د افغانستان په خاوره کې د ځان لپاره ځای ولري.

له بله اړخه د سولې په روانو خبرو کې طالبانو تل له افغان حکومت سره خبرې رد کړې او تېره اونۍ هم افغان حکومت د مسکو په ناسته کې ګډون نه درلود. طالبانو د مسکو په ناسته کې د افغانستان له مطرحو سياسي، جهادي، قومي او مذهبي څېرو سره خبرې وکړې چې دا ناسته د بين الافغاني تفاهم لپاره لومړنی ګام بللی شو، خو افغان ولسمشر د مسکو د غونډې په ورځ په يوه ټلوېزيوني مرکه کې وويل، چې دغه سياسيون اجرايوي صلاحيت نه لري او هره هوکړه چې وي، افغان حکومت به يې کوي. دا بيا هغه ستونزه ده چې د حل لپاره يې لارې چارې لا هم وخت ته اړتيا لري.

په ټوله کې داسې ښکاري چې که طالبان له امريکا سره د سولې په خبرو کې يوې نهايي هوکړې ته ورسېږي او دواړه لورې د جګړې له دوامه لاس واخلي، د بين الافغاني تفاهم يا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو موضوع هغه څه ګڼلی شو چې ښايي د مسکو ناستې ته له افغانستانه تللي سياسي او جهادي مشران يې د حل لاره هواره کړي او په يو ډول د دواړو لورو ترمنځ رامنځته شوی بُن‌بست له منځه يوسي.

## ستولټنبرګ: د افغان حکومت له ګډون پرته د سولې هڅې پايله نه لري




د ناټو عمومي منشي ينس ستولټنبرګ ويلي چې د افغان حکومت له ګډون پرته به د سولې هېڅ راز هڅې پايله ونه کړي.

نوموړي له ازادي راډيو سره په ځانګړې مرکه کې ويلي، چې روسيه او په افغانستان کې ټول ښکېل اړخونه بايد د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د افغان سولې په چارو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد پيل کړې دي.

هغه دغه راز ويلي چې نړيواله ټولنه به په افغانستان کې د سولې د يوې موافقې په صورت کې، د تېرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې له پامه ونه غورځوي.

د نوموړي په خبره، په افغانستان کې يوازې يوه سناريو شته چې د سولې پروسه ده، د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې داسې پروسه چې پر بنسټ يې پر سوله موافقه وشي، خو اوربند بايد د سولې د هرې معاملې مهمه برخه وي او دا چې بايد افغان حکومت په دې پروسه کې اساسي رول ولوبوي.

نوموړي ويلي، ناټو د دې لپاره په افغانستان کې پاتې ده چې د تروريزم پرضد مبارزه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې دغه هېواد به بيا د نړيوال تروريزم په خوندي ځاله نه بدلېږي، مور همدا راز له سوله ييزې حللارې سره د مرستې لپاره هلته حضور لرو، د ناټو کار دا نه دی چې کومه حللاره تحميل کړي، بلکې دنده لري چې د سولې يوې افغاني حللارې ته امکان برابر کړي، البته بشري حقوقي، ډيموکراسي او فردي ازادي د افغانانو لپاره خورا زيات اهميت لري او بايد درناوی ورته وشي.

هغه دغه راز ويلي، د افغان حکومت له ګډون پرته دوامداره سوله ناممکنه ده، نو ځکه مونږ له طالبانو سره د خليلزاد د هغو تماسونو او هڅو کلک ملاتړ کوو، چې غواړي د افغانانو ترمنځ د پخلاينې پروسې ته لاره پرانيزي، البته د افغانستان حکومت بايد د پخلاينې د دې پروسې برخه وي، د افغانانو او په تېره د افغان حکومت له حضور پرته دوامدارې سولې ته نه شو رسېدلی.

د نوموړي په خبره، د مسکو په ګډون ټول بايد د خليلزاد او له طالبانو سره د هغه د خبرو ملاتړ وکړي، څو په افغانستان کې د سولې لپاره يو چوکاټ رامنځته شي، بايد پوه شو چې د مسکو غونډه له دغه هدف سره مرسته کوي او که نه؟ د ناټو تمرکز پر دې دی چې هم د افغان ځواکونو د پياوړي کولو او هم له سياسي لارو، د امريکا او خليلزاد د هڅو پوره ملاتړ وکړي، دا د سولې يوازينۍ لار ده.

# حامد کرزی: امریکا دې له افغان سولې د سیمه ییزو رقابتونو وسیله نه جوړوي



افغان سوله باید د سیمې د قدرتونو ترمنځ د رقابت وسیله نه شي. پخواني ولسمشر حامد کرزي له اسوشیټېډپرېس خبري اژانس سره په خپله نوې مرکه کې ویلي، چې افغانان سولې ته لېواله دي، خو هېچا ته به اجازه ور نه کړي چې د خلکو پر دې ستره هیله معامله وکړي. د ده په خبره، ځینې هېوادونه هڅه کوي چې د افغان سولې په نامه امتیاز واخلي او همدا راز داسې هڅې روانې دي چې د سولې پر سر رقابتونه رامنځ ته شي، خو دا کار د هېچا په ګټه نه دی. د ښاغلي کرزي په خبره، امریکا باید د افغانستان د سولې مسئله د سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ د رقابت په سبب او وسیله بدله نه کړي.
ښاغلي کرزي په خپله دې مرکه کې اندېښنه څرګنده کړې، چې ښایي د سیمې قدرتونه د افغان سولې پر سر له یو بل سره سیالي وکړي او په دې توګه افغانستان د سیمه ییزو رقابتونو پر ډګر بدل شي. هغه ویلي، امریکا باید دا زمینه برابره نه کړي چې د افغانستان ګاونډیان او د سیمې قدرتونه پر سوله سره سیالي وکړي او افغانستان د دوی ترمنځ د رقابتونو پر ډګر بدل شي. کرزي زیاته کړې:
((موږ نه غواړو چې د سولې بهیر د سیمې د قدرتونو له لوري پر افغانستان د فشار په موخه یرغمل کړل شي)).
پخواني ولسمشر ویلي، امریکا باید دې ته هم متوجه وي چې د افغان سولې پر سر پاکستان ته امتیاز ور نه کړي. د نوموړي په خبره، افغانان نه غواړي شاتګ وکړي او یا د پاکستان تر اغېز لاندې وي. هغه زیاته کړې، که امریکا پاکستان ته د افغان سولې پر سر امتیاز ورکړي، نو پاکستان ارو مرو دا هڅه کوي چې پر افغان سوله خپل نفوذ ولري او افغانان هېڅکله د پاکستان نفوذ نه مني.
د ښاغلي کرزي په خبره: ((موږ نه غواړو چې یو ځل بیا افغانستان د سولې د خبرو په نامه د پاکستان تر نفوذ لاندې وي. ما امریکایانو ته واضح ویلي چې په افغانستان کې د سولې او همدا راز د افغانستان پر سر له پاکستان سره معامله کول دوه بېل شیان دي. د دې دواړو مسئلو ترمنځ لوی توپیر موجود دی)).
ښاغلي کرزي اسلام اباد ته د طالبانو د پلان شوي سفر په اړه هم ویلي، چې دا مسئله د افغان سولې په بهیر کې د خطر زنګ دی. دده په خبره، پاکستان ته د طالبانو بې پلانه او ناڅاپي سفر به هم د دې سبب شي چې هېواد د سیمې د قدرتونو ترمنځ د سیالیو پر ډګر بدل کړي. هغه زیاته کړې چې په افغانستان کې روانه جګړه یوازې د خبرو له لارې د حل وړ ده او دا خبرې باید د افغانانو ترمنځ وشي. پخواني ولسمشر همدا راز ویلي چې حکومت باید د سولې په برخه کې نرمښت وښیي. د کرزي په خبره، سوله د افغانانو هیله ده او که په هېواد کې روانه جګړه او خونړۍ لړۍ د سولې او سیاسي مذاکراتو پر مټ د حل وړ وي، نو باید حکومت هم پوره نرمښت وښیي. کرزي ویلي: ((نرمښت زموږ په ګټه دی. سوله د کلونو اوږده جګړه ختموي، نو حکومت ته مې مشوره دا ده چې نرمښت وښیي)).
ښاغلي کرزي داسې مهال دغه څرګندونې کړې چې ټاکل شوې وسله وال طالبان د قطر تر ناستې مخکې اسلام اباد ته سفر وکړي. د وسله والو طالبانو ویاند، ذبیح الله مجاهد رسنیو ته په یوه لېږلې اعلامیه کې ویلي وو، د روانې میلادي میاشتې په ۲۵مه په دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ مخامخ خبرې کېږي، خو تر هغه مخکې به طالب پلاوی اسلام اباد ته ځي. د معلوماتو له مخې، طالبان د پاکستاني حکومت په رسمي بلنه اسلام اباد ته ځي او هلته به له زلمي خلیلزاد سره هم خبرې کوي. دا چې په دغه لیدنه کې به پر کومو مسایلو خبرې کېږي، په اړه یې څه نه دي ویل شوي.

## د سولې عالي شورا: د جرمني په کوربه توب د سولې غونډې له چمتووالي هرکلی کوو



د سولې عالي شورا د جرمني په کوربه توب د سولې د غونډې له چمتووالي د هرکلي ترڅنګ، ویلي چې جرمني کولای شي چې په دې برخه کې مهم رول ولوبوي.
د دې شورا مرستیال عبدالخبیر اوچقون ویلي چې جرمني په ۲۰۰۱ ز کال کې د بن غونډې په جوړولو سره د موقتې ادارې په رامنځته کولو کې مهم رول ادا کړ او دا ځل به په یاد هېواد کې د سولې غونډه هم ښې پایلې ولري.
نوموړي ویلي: «که جرمني وغواړي چې د افغان سولې په اړه د غونډې کوربه توب وکړي، فکر کوم ډېر به ګټور تمام شي، خو په دې شرط چې د افغان حکومت له لوري وي، ځکه افغان حکومت د خلکو د ارادې ممثل دی».
دا په داسې حال کې ده چې د جرمني د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې افغانستان بین الافغاني خبرو ته اړتیا لري او دغه هېواد غواړي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو زمینه برابره کړي.
شپیګل مجلې د جرمني د بهرنیو چارو وزارت د ویاند په نقل راپور ورکړی چې جرمني د افغان دولت د یو لوی متحد په توګه د دغه هېواد د حکومت او طالبانو د غوښتنو پر بنسټ غواړي، چې د افغانستان د سولې د غونډې کوربه توب وکړي.
جرمني داسې مهال د سولې غونډې ته د چمتووالي په اړه خبره کوي چې ټاکل شوې، د طالبانو یو پلاوی سبا د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره په اسلام اباد کې وګوري.
بل خوا د افغان حکومت اجرایه ریاست ویلي چې د افغان دولت له وسله والو مخالفانو سره د ځینو هېوادونو غونډې د افغانستان او سیمې له وضعیت سره مرسته نه شي کولای.
دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تازه د افغان سولې په اړه سفرونه له اروپایي او د سیمې له هېوادونو پیل کړي او د مونیخ د امنیتي غونډې په څنډه کې یې له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره هم کتلي دي.

## ووټل: ښایي ۱۴۰۰ امریکایي سرتېري له افغانستانه وباسو



د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال جوزېف ووټل ویلي چې ښایي له زرو زیات امریکایي عسکر له افغانستانه وایستل شي.
نوموړي رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې د دغو امریکایي عسکرو د کمولو پرېکړه د سولې لپاره له روانو هڅو سره اړیکه نه لري.
د هغه په خبره، دغه وړاندیز په افغانستان کې د امریکا د پوځیانو قوماندان جنرال سکاټ مېلر کړی او موخه یې د امریکا د پوځ له امکاناتو منصفانه کار اخیستل دي.
ووټل رویټرز ته دغه راز ویلي: «دا پلان جنرال مېلر په افغانستان کې د قوماندان په توګه تر ټاکل کېدو وروسته جوړ کړی او تمرکز یې پر دې و چې موږ څرنګه کولای شو چې د امکان تر حده موثر فعالیت او سپما وکړو».
هغه د مېلر له دې پرېکړې په ملاتړ ویلي، جنرال مېلر د قوماندان په حیث دا پرېکړه کړې او ښه پوهېږي چې څرنګه زموږ منابع سپمولای شي.
نوموړي ویلي چې مېلر ښایي د ۱۴ سوه په شاوخوا کې عسکر له افغانستانه وباسي، خو دقیق شمېر یې لا نه دی ورکړی.
په کابل کې بیا د جنرال مېلر ویاند ډګروال ډېویډ بټلر په دې اړه، چې څومره عسکر به دقیقاً وایستل شي، له خبرو ډډه کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د دفاع وزارت سرپرست، پاټریک شاناهان تېره اونۍ په بروکسل کې د ناټو د دفاع وزیرانو په غونډه کې ویلي وو چې په افغانستان کې د عسکرو د شمېر په اړه هېڅ پرېکړه به د دغه تړون د نورو غړو له خبرتیا او همغږۍ پرته نه کوي.
د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر په داسې وخت کې له افغانستانه د یوشمېر عسکرو د ایستلو خبره کوي، چې د دفاع سرپرست د مونیخ په غونډه کې د داعش پر ضد د نړیوال ائتلاف د لا قوي کېدو او پراختیا غوښتنه وکړه.
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ څو ورځې وړاندې کانګرېس ته په خپله کلنۍ وینا کې وویل چې په نږدې وخت کې به د داعش د خلافت د ړنګېدو اعلان وشي.
ټرمپ په افغانستان کې هم د خپلو پوځیانو د شمېر د کمولو ټینګار وکړ، خو ویې ویل چې له طالبانو سره د سولې په خبرو کې پرمختګ ته به ګوري او پر اساس به یې پرېکړه کوي چې څومره پوځیان کم شي.

## له مکسیکو سره د دېوال پر سر تر ناندریو وروسته؛

# ټرمپ رسماً د بیړني حالت د نافذولو سند لاسلیک کړی دی



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ رسماً د بیړني حالت د نافذولو سند لاسلیک کړی دی.
د بیړني حالت د اعلان په سند کې لیکل شوي: «د امریکا په جنوبي سرحد کې امنیتي او بشري بحران روان دی چې د امریکا ملي امنیت یې له خطر سره مخامخ کړی او په ملي کچه بیړنی حالت یې پېښ کړی دی».
ټرمپ له دې کبله بیړنی حالت اعلان کړی چې له مکسیکو سره پر ګډ سرحد دېوال جوړ کړي.
د بیړني حالت له اعلان سره ټرمپ اعتراض نه لري، څو د کانګرېس مرستې ته منتظر شي او د دې صلاحیت پیدا کوي چې د دغه دېوال د جوړولو لپاره له نورو ادارو پیسې ترلاسه او مصرف کړي.
کانګرېس له مکسیکو سره پر ګډه پوله د امنیتي موانعو د جوړولو لپاره منلې، چې ۱.۴ میلیارده ډالر به ولسمشر ټرمپ ته ورکوي، خو ټرمپ د خپل دغه پلان لپاره له کانګرېسه ۵.۷ میلیارده ډالره غوښتي دي.
دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ په ۲۰۱۶ ز کال کې د جمهوري ریاست په ټاکنیز کمپاین کې له خپلو پلویانو سره ژمنه کړې وه، چې د جمهوري ریاست د ګټلو په صورت کې به د امریکا او مکسیکو پر ګډه پوله کانګرېټي دېوال جوړوي.
نوموړي هغه مهال دا ژمنه هم کړې وه چې د دېوال پیسې به له مکسیکو اخلي. ټرمپ ټینګار کوي چې امریکا ته د ناقانونه کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره د دېوال جوړول ضروري دي.
هغه زیاته کړې: «موږ به نن د ملي اضطراري حالت اسناد لاسلیک کړو چې ډېر ښه کار دی، ځکه چې موږ د مخدره موادو، وسله والو ډلو، د وګړو له لوري له اشغال سره مخامخ یو او دا د منلو وړ نه دي».
په بیړني حالت کې به ټرمپ له نورو مالیاتي سرچینو استفاده کوي او کولای شي چې د دېوال د جوړولو پلان ته ۸ میلیارده ډالره را غونډ کړي.
خو د هغه د خبرو په اړه ډیموکراټانو او ځینو جمهوري غوښتونکو کلک مخالفت څرګند کړی دی.
په کانګرېس کې د استازو مجلس مشرې نانسي پلوسي او په سنا کې د ډیموکراټانو مشر، چک شومر په دې اړه په ګډ بیان کې ویلي چې د ملي اضطراري حالت اعلام ناقانوني کار او له قدرت او د جمهوري ریاست له صلاحیته ډېره ناوړه استفاده ده.
د دوی په خبره، ولسمشر ټرمپ له خپلو پلویانو سره ژمنه کړې وه چې د دغه دېوال پیسې به له مکسیکو اخلي او اوس غواړي چې پلویان یې غلي پاتې شي او دېته یې پام نه شي، چې نوموړي خو ورسره خپله ژمنه ماته کړې ده.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### پنځم څپرکی
### څنگه نوی فکر وکړو؟




د کارونو په کېدو باور اصلاً نویو او خلاقو حللارو ته یو مسیر برابروي، خو په نه کېدو باور یې بیا ورانوونکی دی. دا خبره په ټولو لویو او کوچنیو حالاتو کې صدق کوي. کوم سیاسي رهبران چې د پایدارې نړیوالې سولې په راتگ پوره باور نه لري، ماتې خوري، ځکه دوی خپل ذهنونه د هغو نویو لارو خوا ته تړلي، چې نړیوالې سولې ته غځېدلې دي. کوم اقتصادپوهان چې وایي د اقتصادي ځوړ یا رکود مخه نه نیول کېږي، دوی یې مخنیوي ته نوې لارې چارې هم نه شي موندلای.

همداسې که تاسې پر ځان باور ولرئ، نو د یوه کس خوښولو وړتیا هم لرئ.

که باور ولرئ، خپلو شخصي ستونزو ته حللارې موندلای شئ.

که باور ولرئ، نو د نوي او ښایسته کور اخیستو ته یوه لاره موندلای شئ.

باور نوښتگره انرژي ازادوي او بې باوري هماغه انرژي بندوي، د نوي فکر درلودو لپاره باید باور ولرئ.

دویم گام. که نیت وکړئ ذهن به مو یوه لاره درکړي. نږدې دوه کاله مخکې راته یوه ځان وویل چې په دندې یا راتلونکې جوړولو کې راسره مرسته وکړه. ده یوه شرکت کې په یوه عادي بست کار کاوه او فکر یې کاوه چې دا بست هېڅ راتلونکی نه لري. زه یې ورسره په سوابقو او د خوښې په کار وغږېدم، لږ یې چې په اړه پوه شوم ورته ومې ویل:

(زه ستاسې د پرمخ تلو لېوالتیا ستایم، خو دا تاسې چې کوم کار غواړئ، دې کې لوړو زده‌کړو ته اړتیا ده. تاسې کالج نیمایي کې پرېښی، نو زما وړاندیز درته دا دی چې لومړی خپل کالج ولوله، که په رخصتیو کې ورسره درس ولولې، نو دوو کالو کې یې ختمولای شې، بیا به د خپلې خوښې په اداره کې د خپلې خوښې دنده هم پیدا کړې.)

هغه راته وویل:

(زه پوهېږم چې زده کړې به راسره ډېره مرسته وکړي، خو درس بېرته له سره نشم پیلولای، امکان نه لري.)

ما وپوښت: (امکان نه لري؟ ولې؟)

ځوان وویل: (یو دلیل خو یې دا دی چې زه د څلورویشتو کالو یم، نن سبا به مې بل ماشوم هم پیدا شي، اوسنی معاش مې ایله د سبا و بېگا کېږي، نو مجبور یم چې کار ته لاړ شم، په دې خاطر زده کړې نشم کولای، هېڅ امکان نه لري.)

دې ځوان ځان خپله قانع کړی و چې کالج ختمول امکان نه لري.

ما ورته وویل: (که ته په دې باور یې چې درس نه شې ختمولای، نو رښتیا یې هم نه شې ختمولای، خو که رښتیا دا نیت وکړې چې پوهنتون ته ستون شې، نو لاره درته پیدا کېږي. اوس ته یو کار وکړه، ته دا نیت وکړه چې بېرته به درس ته ورستنېږې او په ذهن کې له دې پرته بل فکر مه پرېږده. بیا کېنه او په رښتیا فکر وکړه چې څنگه درس هم ویلای شې او د کورنۍ خرڅ هم پوره کولای شې، یو څو اونۍ وروسته راشه، بیا ما خبر کړه چې څه وشول.)

ځوان ملگری دوه اونۍ وروسته راغی، شروع یې وکړه:

(ستا په خبره مې ډېر فکر وکړ، اوس مې نیت دی چې بېرته کالج ته ستون شم، لا مې ټول اړخونه نه دي سنجولي، خو یوه لاره به پیدا شي.) او پیدا یې هم کړه!

هلک په یوه سوداگریزه اداره کې بورس یا سکالرشیپ پیدا کړ چې کتابونه او نور متفرقه لگښتونه یې ورکول. درسي مهالوېش یې هم داسې تنظیم کړ چې درس ته پکې تلای شوی. دا زلمی ښه ژوند ته سخت لېواله و، له دې امله یې د ښځې ملاتړ هم ترلاسه کړ او دواړو په گډه د لگښت کمولو او پیسو سپمولو ته نوې لارې چارې پیدا کړې.

تېره میاشت بلاخره له پوهنتونه خلاص شو او په سبا د ونډو په یوه لوی شرکت کې مدیر شو.

درېیم گام، باور ولرئ چې دا کار کولای شئ. دا جمله د نوي فکر اساس دی. دلته دوه داسې لارې ښودل شوې دي، چې پر دې لارو تاسې د باور په مرسته نویو لارو ته رسېدلای شئ:

الف. (نه کېږي) کلیمه هېره کړئ، دا کلیمه هر څه ورانوي. که تاسې یوازې یو ځل دا فکر وکړئ چې (دا کار نه کېږي) نو همدې فکر پسې د نورو منفي فکرونو لړۍ پخپله را پیلېږي.

ب. په داسې کارونو فکر وکړئ چې یو وخت یې کولو ته لېواله وئ، خو په یوه دلیل مو نه دی کړی. اوس د داسې دلایلو یو لېست برابر کړئ چې د هغه کار (کېدل) تاییدوي. زموږ فکر زیاتره وخت (نه کېدلو) ته وي، په دې خاطر د خپلو هیلو او ارمانونو مرۍ پرې کوو، خو زموږ ذهن باید یواز یو شي ته واوړي او هغه زموږ د وړتیا دلایل دي.

څه وخت مخکې مې یوه مقاله لوسته، پکې راغلي وو: په ځینو ولایاتو کې د ولسوالیو شمېر لوړ دی. په مقاله کې راغلي وو چې دا ولسوالۍ د موټر له جوړېدو کلونه وړاندې د اسپې او ټانگې په وخت کې جوړې شوې دي، خو نن سبا موټرې ډېرې دي، ټرانسپورټ اسانه دی، نو دا ولسوالۍ ولې سره نه شې گډېدای؟ که دا ولسوالۍ سره گډې شي، نو اضافي او تکراري خدمتونه به راکم شي او مالیه ورکوونکي به په لږو پیسو، ښه خدمتونه ترلاسه کړي. د مقالې لیکوال باور درلود چې مناسبه طرحه یې ورکړې ده، دېرش تنه یې ټاکلي وو، له هغوی سره یې هم مرکه کړې وه چې نظریات یې واخلي، پایله دا وه: ان یوه تن هم په دې اړه کوچنی مثبت ټکی نه و لیدلی، که څه هم دې ټولو خلکو دولت ته لږه مالیه ورکوله او ډېر خدمتونه یې ترلاسه کولای شول.

**دوام لري...**

# دعوت پوهنتون

حمیدالله حمیدي



دعوت پوهنتون چې پخوانی نوم یې (دعوت و جهاد) و، خپلې لومړنۍ چارې یې په پېښور کې د جهاد دې دورې پر مهال پیل او په بېلابېلو پوهنځیو کې به یې محصلینو پکې لوړې زده کړې کولې. په افغانستان کې د طالبانو حکومت تر سقوط وروسته او د نوي حکومت په راتلو سره یې په کابل کې د (دعوت پوهنتون) په نوم د بنسټ ډبره په ۱۳۸۸ لېږدیز لمریز کال د استاد عبد الرب رسول سیاف په اهتمام، چې اوس هم د دغه پوهنتون د ریاست چارې ور په غاړه دي، کېښودل شوه. دغه پوهنتون په لومړي سر کې درې پوهنځي ( شرعیات، ساختماني انجینري او حقوق او سیاسي علوم) درلودل. د یوه کال په تېرېدو سره لوړو زده کړو وزارت دغه پوهنتون ته د دوو نورو پوهنځیو (اقتصاد او ژورنالېزم) منظوري هم ورکړه. په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د فارمسۍ او په ۱۳۹۲ لمریز کال کې یوازې د ښځینه وو لپاره د طب پوهنځیو هم د دغه پوهنتون په چوکاټ کې پر فعالیت پیل وکړ.

دعوت پوهنتون اوسمهال اووه پوهنځي ( شرعیات، ساختماني انجینري، حقوق او سیاسي علوم، ژورنالیزم، اقتصاد، فارمسي او د ښځینه وو لپاره د طب) پوهنځي لري. د دغه پوهنتون د اړیکو مسوول خالد سراج وایي، پر دې سربېره، دعوت پوهنتون د ماسټرۍ دوه پروگرامونه هم لري.د سراج په خبره، دعوت پوهنتون د نړیوالو اړیکو او فقې او قانون په برخه کې د ماسټرۍ پروگرامونه لري، چې محصلین عملاً پکې پر زده کړو بوخت دي.

د دغه پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، دغه پوهنتون لږ تر لږه ۶۰۰۰ محصلین لري، چې د دغه پوهنتون په بېلابېلو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. دی وایي، د طب پوهنځی یې یوازې ښځینه محصلینو ته ځانگړې کړې دی. نو په خبره یې چې د محصلینو یوه زیاته برخه یې ښځینه هم تشکیلوي. د دغه پوهنتون مسوولین وایي، تر اوسه پورې یې له بېلابېلو پوهنځیو شپږ دورې محصلین فارغ کړې دي، چې لږ تر لږه یې شمېر ۶۰۰۰ ته رسېږي.

په دغه پوهنتون کې د ورځې او شپې لخوا په دریو وختونو کې تدریس کېږي. د پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، سهار وختي، له غرمې وروسته او د شپې لخوا په بېلابېلو پوهنځیو کې محصلین د زده کړو لپاره ورځي. دعوت پوهنتون هر کال د لږ تر لږه څلور زرو محصلینو د جذب وړتیا لري. ښاغلی سراج وایي، ډېری محصلین یې هغه کسان دي چې په دولتي او خصوصي ادارو کې د ورځې لخوا پر کار بوخت دي او د دې لپاره چې له رسمي وخت وروسته خپلې لوړې زده کړې وکړي یا د ماسټرۍ په پروگرام کې گډون وکړي، نو په دغه پوهنتون کې د خپلې خوښې په پوهنځي کې د کانکور له ازموینې وروسته زده کړې پیلوي. دعوت پوهنتون د ۴۰۰ په شاوخوا کې استادان لري، چې په دې کې کورني او بهرني دواړه شامل دي. د دغه پوهنتون مسوولین وایي، د افغان حکومت په رسمي اجازې سره یې د مصر هېواد ځینې استادان د دغه پوهنتون په ځینو پوهنځیو کې د تدریس چارې مخ ته وړي. د دغه پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، لږ تر لږه ۳۰ تنه استادان یې د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. ډېری یې ماسټري او ډېر لږ یې بیا لېسانس دي. د ښاغلي سراج په خبره، له رسمي وخت وروسته په کابل کې د دولتي پوهنتونونو ډېری استادان هم په دغه پوهنتون کې د تدریس چارې مخ ته وړي.

دغه پوهنتون د محصلینو لپاره درې ډوله تخفیف په پام کې نیولی دی. ښاغلی سراج وایي، په ټوله کې د محصلینو لپاره ۲۵ سلنه تخفیف لري. دی وایي، دویمه ډله هغه کسان دي چې بې وزلي او یا هم یتیمان وي، چې د پوهنتون د مشرتابه په امر ورته تخفیف ورکول کېږي چې په دې برخه کې اوسمهال لږ تر لږه ۴۰۰ محصلین لري او خپلې لوړې زده کړې کوي. او درېیمه ډله بیا ممتاز محصلین دي، چې د سمبسټر په اوږدو کې یې د نومرو کچه لوړه یا هم اول نمره وي. دی وایي، په دې کې داسې محصلین هم شته چې سل سلنه، ۷۵ سلنه او ۵۰ تخفیف ورکول کېږي.

دعوت پوهنتون تر اوسه پورې له کوم بهرني پوهنتون سره د سکالرشیفونو هوکړه نه لري، چې له دې ځایه محصل د لوړو زده کړو او یا هم ماسټرۍ اخیستو لپاره ور ولېږي، خو هغه محصلین چې د ممتازو محصلینو په ډله کې راځي، ډېر یې په کور دننه او بهر کې د لوړو زده کړو لپاره د دعوت پوهنتون پر شخصي لگښت نورو پوهنتونونو ته ور معرفي کېږي. دغه راز دعوت پوهنتون په کور دننه او بهر کې له ځینو نورو پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري او له تجربو یې گټه اخلي.

ډېری هغه کسان چې له خصوصي پوهنتونونو او یا هم د لوړو زده کړو له موسسې فارغېږي، یوه اندېښنه ور سره د خپلو تحصلي اسنادونو د ترلاسه کولو وي. د دعوت پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، د محصلینو د تحصلي اسنادو هغه برخه چې په پوهنتون پورې اړه لري، دوی یې په اړه پر وخت اقدام کوي او ټول اړین توکي ورته برابروي، څو محصل وکړای شي له خپلو اسنادو څخه د دندې پیدا کولو او نورو برخو کې گټه واخلي، خو په خبره یې چې د لوړو زده کړو وزارت ور سره په دې برخه کې مرسته نه کوي او وخت ناوخت د اسنادو د وېش په برخه کې ورته ستونزې جوړوي.

ښاغلی سراج وایي، دوی په خپل پوهنتون کې د کریکولم د تغیر یوه کمېټه لري، چې له مخې یې د کار مارکېټ ته په کتو، د خپلو محصلینو لپاره داسې یو کریکولم برابر وي، څو محصل وکړای شي له فراغت ورسته ډېر ژر د خپلې خوښې دنده پیدا کړي چې اوس هم عملاً د دوی ډېری فارغ شوي محصلین په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په لوړو بستونو دندې تر سره کوي.

د دعوت پوهنتون د مسوولینو په خبره، هغه برسونه چې د محصلینو لپاره له بهرنیو پوهنتونونو او هېوادو څخه راځي، په هغه کې یوازې د دولتي پوهنتونونو محصلینو ته ونډه ورکول کېږي، په داسې حال کې چې په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې هم ډېر داسې محصلین شته چې د دغو برسونو مستحق دي او وړتیا یې لري. دوی له دغه وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته هم په دغو برسونو کې ونډه ورکړي.

له دې سره په څنگ کې د دغه پوهنتون اداره له لوړو زدکړو وزارت څخه غواړي، هغه استادان چې له دوی سره په تدریس بوخت دي، باید د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر د علمي رتبو په بهیر کې شامل شي، څو دوی هم وکړای شي علمي رتبې ترلاسه کړي. دوی وایي، لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې د خصوصي پوهنتونونو استادانو ته هم په کور دننه او بهر کې د هغوی د علمي سويې د لوړولو لپاره په هغو پروگرامونو کې چې داستادانو لپاره دایرېږي، ونډه ورکړي. د یادولو ده چې دعوت پوهنتون د خصوصي پوهنتونونو په ډله کې له مخکښو پوهنتونونو څخه دی او په دې ډله کې ښه نوم لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,۵۰ |
| € | ۸٤,۲۰ |
| Rp. | ۵۳۲ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# عفونت ادراری در کودکان؛ علائم، دلایل و راه های درمان

ترجمه: فایز کریمی



کودکان در سال‌های اولیه عمرشان به بیماری‌ها و عفونت‌های مختلف مبتلا می‌شوند. ابتلا به سرماخوردگی و عفونت‌های تنفسی دیگر در آنها معمولاً رایج است. اما آنها ممکن است گرفتار بیماری عفونت ادراری هم شوند. ما در ادامه این مقاله به موضوع عفونت ادراری در کودکان پرداخته‌ایم. اگر سلامت کودک خودتان یا کودک اطرافیان برایتان اهمیت دارد، این مقاله را تا انتها بخوانید.

**دلایل ایجاد عفونت ادراری، راه‌های پیشگیری و درمان آن**

به‌طور معمول ۸ در صد از دختران و ۲ در صد از پسران تا ۵ سالگی ممکن است به عفونت ادراری مبتلا شوند. گاهی‌اوقات تشخیص علائم این بیماری در کودکان سخت می‌شود، اما درمان کودک خیلی مهم است، زیرا عفونت ادراری می‌تواند به عفونت جدی کلیه تبدیل شود. با درمان صحیح، کودک پس از چند روز سلامت خود را باز می‌یابد.

**چگونگی ابتلای کودکان به عفونت ادراری**

گاهی‌اوقات، باکتریاها از طریق پوست یا مدفوع وارد مجرای ادراری کودک می‌شوند و شروع به تکثیر می‌کنند. این میکروب‌های دردسرساز می‌توانند هر بخشی از مجرای ادراری را عفونی کنند. این بخش‌ها شامل موارد زیر هستند:
کلیه که مواد زاید و آب اضافی بدن را از خون گرفته و به صورت ادرار درمی‌آورد.
میزنای که ادرار را از کلیه به مثانه می برد .
مثانه که ادرار را در خود جمع می کند.
میزراه یا پیشاب‌راه که ادرار را از مثانه و بدن به بیرون می‌فرستد.
عفونت مثانه را التهاب مثانه هم می‌گویند. عفونت کلیه هم پیلونفریت نامیده می‌شود.
دخترها به دلیل اینکه پیشاب‌راه‌شان کوتاه‌تر از پسرهاست، بیش از آنها به عفونت ادراری مبتلا می‌شوند. باکتریا از طریق مقعد، خیلی آسان‌تر وارد واژن و پیشاب‌راه آنها می‌شود. برخی از کودکان هم مشکلاتی در مثانه یا کلیه خود دارند که آنها را بیش از دیگران مستعد عفونت ادراری می‌کند. باریک بودن مجرای ادراری، جلوی جریان ادرار را می‌گیرد و باعث تکثیر میکروب‌ها می‌شود. مشکلی هم به نام ریفلاکس ادراری (VUR) هم می‌تواند ادرار را از مثانه به میزنای و کلیه بازگرداند.

**علائم و نشانه‌های عفونت ادراری در کودکان**

علائم عفونت ادراری در کودکان بزرگ‌تر معمولاً راحت تشخیص داده می‌شوند. علائم اصلی این بیماری، درد در قسمت پایین شکم، پشت یا پهلوست و کودک مدام احساس می‌کند که باید ادرار کند. برخی از کودکان هم که قبلاً یاد گرفته‌اند به توالت بروند، کنترل مثانه خود را از دست داده و رختخواب خود را خیس می‌کنند.
اما باید به وضعیت و شرایط کودکان کوچک‌تر بیشتر دقت کنید تا عفونت ادراری آنها تشخیص داده شود. نوزادان، علائم کلی‌تری مانند بهانه‌گیری، غذا نخوردن یا تب بروز می‌دهند.
از دیگر علائم عفونت ادراری باید به موارد زیر اشاره کرد:
سوزش یا درد هنگام ادرار کردن؛
بوی بد یا رنگ تیره ادرار؛
احساس تخلیه ادرار، در صورتی که چند قطره بیشتر نیست؛
تب؛
حالت تهوع یا استفراغ؛
اسهال.

**روش تشخیص عفونت ادراری کو د کا ن**

اگر علائمی دیدید که احساس کردید کودک‌تان به عفونت ادراری مبتلاست، او را نزد داکتر اطفال ببرید. داکتر، ادرار او را بررسی می‌کند تا ببیند باکتریا در ادرار وجود دارد یا خیر. او ادرار کودک را با چند روش جمع‌آوری می‌کند:
ادرار کودکان بزرگ‌تر را درون ظرفی تمیز می‌ریزد؛
روی آلت تناسلی کودکانی که هنوز نمی‌توانند در توالت ادرار کنند، یک کیف پلاستیکی قرار می‌دهد تا ادرار را جمع کند؛
لوله‌ای (کاتتر) درون پیشاب‌راه و مثانه‌شان کودکانی می‌گذارد که از داکتر استفاده می‌کنند و نمونه ادرارشان را جمع‌آوری می‌کند؛
داکتر سوزنی را وارد مثانه نوزادان می‌کند و نمونه‌ای از ادرار او را برمی‌دارد.
سپس کارشناس آزمایشگاه، نمونه ادرار را زیر میکروسکوپ نگاه می‌کند تا میکروب‌های موجود در ادرار را بررسی کند. او ممکن است ادرار را کشت کند؛ یعنی اینکه ادرار را درون ظرفی می‌ریزد و صبر می‌کند تا ببیند چه نوع باکتریا در آن رشد خواهد کرد. این روش به داکتر کمک می‌کند تا بداند دقیقاً چه میکروب‌هایی موجب عفونت ادراری در کودک شده و داروی مناسب را تجویز کند.
اگر کودک‌تان چند بار به عفونت ادراری مبتلا شده، داکتر یک یا چند آزمایش تصویر برداری زیر را انجام می‌دهد تا متوجه مشکل مجرای ادراری کودک‌تان شود:
**اولتراساوند:** در این آزمایش با استفاده از امواج صوتی، هر نوع انسداد یا مشکلات دیگر در کلیه‌ها تشخیص داده می‌شود.
سیستو ارتروگرافی در حین ادرار کردن: در این آزمایش، با استفاده از یک لوله، مثانه را پر از مایع می‌کنند. زمانی‌که کودک ادرار می‌کند، پیشاب‌راه یا مثانه را بررسی می‌کنند.
**اسکن هسته‌ای:** با استفاده از مایعی که به مقدار بسیار کمی مواد رادیواکتیوی آغشته شده است، به بررسی عملکرد کلیه‌ها می‌پردازند.
سی‌تی اسکن یا توموگرافی رایانه‌ای: با اشعه ایکس قوی، از مثانه و کلیه‌ها، عکس‌هایی با جزئیات کامل می‌اندازند.
**ام‌آرآی یا تصویرسازی تشدید مقناطیسی:** با استفاده از مقناطیس و امواج رادیویی، از مثانه و کلیه‌ها تصویربرداری می‌کنند.

**راه های درمان عفونت ادراری در کودکان**

برای درمان عفونت ادراری، بیشتر از آنتی بیوتیک‌ها استفاده می‌شود. این داروها، باکتریاها را از بین می‌برند. برای کودکان مبتلا به عفونت ادراری معمولاً ۳ تا ۱۰ روز (یا ۷ تا ۱۰ روز)، آنتی‌بیوتیک تجویز می‌شود. بعد از این دوره، داکتر ممکن است دوباره آزمایش ادرار از کودک بگیرد تا مطمئن شود که عفونت کاملاً برطرف شده است.
کودک، حتی اگر نسبتاً حال او خوب شده باشد، باید دوره درمان را تکمیل کند. قطع دارو پیش از تکمیل دوره درمان، میکروب‌ها را به آنتی‌بیوتیک مقاوم می کند و موجب عفونت شدیدتری می‌شود.
بیشتر عفونت‌های ادراری در مدت یک هفته درمان می‌شوند، اما علائم این بیماری در برخی از کودکان تا چند هفته باقی می‌ماند. اگر علائم بیماری کودک ۳ روز پس از شروع مصرف دارو، همچنان باقی مانده بود، باید با داکتر او در میان گذاشت. در غیر این صورت ممکن است وضعیت کودک بدتر شود.

**پیشگیری از ابتلا به عفونت ادراری در کودکان**


داکتر نوزادتان را مرتب عوض کنید تا جلوی رشد باکتری گرفته شود. به‌محض اینکه کودک‌تان کمی بزرگ‌تر شد، به او توالت رفتن را آموزش دهید تا از ابتلا به عفونت ادراری در امان بماند.
به دخترها یاد بدهید که پس از اجابت مزاج، خودشان را از جلو به عقب تمیز کنند. این روش باعث می‌شود که باکتری‌های موجود در مدفوع، وارد واژن و مجرای ادرار آنها نشود. کودکان‌تان را تشویق کنید تا به‌محض احساس ادرار، به توالت بروند و آن را نگه ندارند.
دخترها نباید در وان پر از کف حمام کنند و صابون‌های معطر برای آنها مضر است. درضمن باید لباس زیر نخی بپوشند تا جریان هوا به‌خوبی صورت گیرد و باکتریاها فرصت رشد پیدا نکنند.
کودک‌تان را تشویق به نوشیدن فراوان آب کنید تا باکتریاها از مجرای ادراری او خارج شوند. همچنین آب زیاد از یبوست پیشگیری می‌کند. یبوست باعث انسداد مجرای ادراری و رشد باکتری می‌شود.

**کلام آخر**

با توجه به توصیه‌های پیشگیری می‌توان تا حد زیادی از ابتلا به عفونت ادراری در کودکان جلوگیری کرد، اما اگر کودک به این بیماری مبتلا شد، بدون معطلی او را نزد داکتر ببرید تا بیماری او تبدیل به مشکلات کلیوی نشود.

# اجرایه ریاست: د بهرنیو ځواکونو وتل به د جګړې پر ډګر اغېز ونه کړي

اجرایه ریاست وېلي، د بهرنیو ځواکونو وتل به د جګړې په ډګرونو کې د افغان ځواکونو پر مورال او روحیه اغېز ونه وکړي.
د دغه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته ویلي، امریکا حق لري چې هر وخت چې وغواړي له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي.
خوځون ویلي، له افغانستانه د شاوخوا ۱۴۰۰ بهرنیو ځواکونو وتل به په دغه هېواد کې د جګړې پر ډګر ناوړه اغېز ونه کړي.
نوموړي زیاته کړې: «له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل د سولې له بهیر سره تړاو نه لري. دا چې جګړه د افغان ځواکونو له لوري پرمخ وړل کېږي، د جګړې په ډګرونو کې د افغان ځواکونو پر مورال به هېڅ تاثیر ونه لري، اوس هم د جګړې مسوولیت د افغان ځواکونو په غاړه دی او په راتلونکې کې به هم وي.»
هغه زیاته کړې، هغه څه چې ډېر مهم دي، هغه له افغانستان سره د امریکا همکاري ده، موږ تمه لرو چې د جګړې په ډګر کې افغان ځواکونه ښه تجهیز او پیاوړي شي.



دا په داسې حال کې ده چې تازه د امریکا د پوځ د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال جوزېف ووټل ویلي، چې ښایي د ۱۴ سوه په شاوخوا کې امریکایي عسکر له افغانستانه وباسي، خو دقیق شمېر او د عسکرو د ایستلو کره وخت یې نه دی څرگند کړی.
ووټل رویټرز ته ویلي چې د دغو امریکایي عسکرو د کمولو پرېکړه د سولې لپاره له روانو هڅو سره ارتباط نه لري.
د نوموړي په خبره، دغه وړاندیز په افغانستان کې د مېشتو امریکایي پوځیانو قوماندان جنرال سکاټ مېلر کړی او موخه یې د امریکا د پوځ له امکاناتو منصفانه کار اخیستل دي.
د یادونې ده چې امریکایي پوځیان دا مهال د غوڅ ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې تر ډېره د افغان ځواکونو د روزنې او سلا مشورو پر چارو بوخت دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې ورووستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۱۷مه | دويم کال | ۳۳۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ١٤ | ١٦ | ٨ | ١٦ | ١٢ |
| -٦ | ٢ | ٦ | ٢ | ٦ | ٣ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۲ | ماسپښين ۱۲:۲۵ | مازيگر ۰٤:۱۹ | ماښام ۰۵:۵۷ | ماخوستن ۰۷:۲۰

## نړۍ



له مکسیکو سره د دېوال پر سر تر ناندريو وروسته؛

# ټرمپ رسماً د بيړني حالت د نافذولو سند لاسليک کړی دی

۳

## ایران: که پاکستان د تروریستانو پر وړاندې اقدامات ونه کړي، په خپله به لاس په کار شو



د ایران د سپاه پاسداران عمومي قوماندان محمدعلي جعفري ویلي چې د سیستان په بلوچستان کې پر ایراني سرتېرو د برید غچ به واخلي.

د ایران د ایرنا خبري اژانس د راپور له مخې، د سپاه پاسداران قوماندان تېره ورځ ویلي، که پاکستان له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې عملي اقدامات ونه کړي، ایران به په خپله د دوی په خبره د «استخباراتي سازمانونو د مزدورانو» پر وړاندې اقدام وکړي.

نوموړي خاورو ته د وژل شوو ایراني سرتېرو د سپارلو مراسمو په ځنډه کې ویلي، دا چې پاکستان د دغو خطرناکو عناصرو د ځای په اړه معلومات لري، نو باید د وروستۍ تروریستي پېښې په اړه ځواب ووایي.

جعفري دغه راز زیاته کړې چې ایران پر پوله له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې، له پاکستان څخه د جدي اقداماتو تمه لري او دغه هېواد باید پرې نږدي چې تروریستان د ایران پر ضد ورته بریدونه تر سره کړي.

نوموړي زیاته کړې چې حالات تېر ته بدل شوي او پاکستان باید له تروریزم سره د مبارزې په برخه کې خپله کړنلاره بدله کړي.

هغه زیاته کړې: «که پاکستان په دې برخه کې خپل مسوولیت تر سره نه کړي، د ایران اسلامي جمهوریت د نړیوالو قوانینو او مقرراتو له مخې دا حق ځان ته ورکوي، چې پر گډه پوله د خپل امنیت ساتلو په هدف د سیمې هېوادونو د جاسوو سازمانونو د مزدورانو پر وړاندې جدي اقدامات تر سره کړي».

دا په داسې حال کې ده چې د ایران د سیستان په بلوچستان کې د تېرې چهارشنبې په ورځ په موټر بم برید کې د ایراني چارواکو په خبره، د سپاه پاسداران ۲۷ سرتېري وژل شوي او ۱۳ نور ټپیان شوي دي.

## اردوغان: د امریکا له فشارونو سره سره له روسیې د S-400 دفاعي سیستم پېرلو ته ژمن یو



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، هېواد یې د امریکا له فشارونو سره سره په پام کې لري چې له روسیې S-400 ډوله پرمختللی دفاعي سیستم وپېري.

نوموړي تېره ورځ د دغه هېواد په پلازمېنه انقره کې له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د S-400 ډوله دفاعي سیستم د اخیستلو معامله د ترکیې او روسیې ترمنځ شوې او دوی نه شي کولای چې له دې معاملې تېر شي. دا په داسې حال کې ده چې هغه رسمي ضرب الاجل چې د امریکایي چارواکو له خوا ترکیې ته ورکړل شوی و، چې د روسیې پر ځای د امریکا د دفاعي سیستم پېټریوټ د اخیستلو په اړه ځواب ورکړي، دوې ورځې وړاندې د فبروري پر ۱۵مه پای ته ورسېد.

تر دې وړاندې امریکا ترکیې ته چې د ناټو تړون غړې هم ده، وړاندیز کړی و چې کولای شي له امریکا څخه دغه دفاعي سیستم د ۳،۵ میلیارده ډالرو په ارزښت ترلاسه کړي.

خو د ترکیې ولسمشر ویلي، هېواد یې لا تر اوسه د امریکا د پېټریوټ دفاعي سیستم اخیستلو ته چمتو نه دی، خو واشنگټن دا شرط اېښی چې له مسکو سره به معامله فسخه کړي.

متحده ایالتونو تر دې وړاندې خبرداری ورکړی و چې د ناټو تړون غړي هېوادونه نه شي کولای، چې د روسیې دفاعي سیستم خپلو هېوادونو کې ځای پر ځای کړي.

## کاندیدان انتخابات ریاست‌جمهوری:

# برکناری مقام‌های حکومتی باید متوقف شود




شورای تشریک مساعی نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری، می‌گوید که در آستانهٔ آغاز کمپاین انتخابات، رئیس‌جمهور تلاش دارد تا افراد نزدیک به خودش را در ادارات دولتی بگمارد.

این شورا، دیروز در یک نشست در کابل، خواهان متوقف شدن روند عزل و گزینش مقام‌های حکومتی شد.

محمد محقق، معاون دوم تیم انتخاباتی «صلح و اعتدال» که در این نشست سخن‌رانی می‌کرد، گفت که رئیس‌جمهور تلاش دارد تا در انتخابات آینده مداخله کند.

آقای محقق، با انتقاد از برکناری شماری از مقام‌های دولتی و نیز پس گرفتن امکانات دولت از نزد مقام‌های پیشین حکومت، گفت که «تیم حاکم» نباید فراقانونی عمل کند.

او گفت، امکانات و ساح‌هایی که نزد «شخصیت‌های برجستهٔ نظام» وجود دارند، برای تأمین امنیت آنان است و از کمک‌های بین‌المللی تأمین شده‌است.

به گفته او: «خلع سلاح افراد و پس‌گرفتن امکانات دولتی از شخصیت‌های برجستهٔ نظام، این‌گونه تلقی می‌شود که امکانات دولت، ملکیت شخصی رئیس‌جمهور است؛ در حالی‌که این امکانات از کمک‌های بین‌المللی است و مربوط بیت‌المال می‌شود».

این در حالی است که اخیراً حکومت برنامه‌یی را روی دست گرفته است تا امکانات و سلاح‌های مقام‌های پیشین حکومت را گردآوری کند. در اخرین اقدام، هفتهٔ پیش نیروهای امنیتی موترها و سلاح‌های جنرال جرأت، معاون پیشین شورای امنیت ملی را از نزد وی گرفتند.

همزمان با این، شورای تشریک مساعی نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری، هرچند از اصلاحات در قانون انتخابات استقبال می‌کنند، اما شتاب رئیس‌جمهور در برکناری اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی را انتقاد می‌کنند.

هفتهٔ پیش، پس از آن‌که طرح تعدیل قانون انتخابات تأیید شد، رئیس‌جمهور رئیسان و اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی را برکنار و به لویه ځارنوالی معرفی کرد.

## ژوند

## هواوې شرکت به په ۲۰۲۰ کال کې له ټولو مخکې شي




هواوې غواړي په ۲۰۲۰ ز کال کې له سامسونگ مخکې شي او د ځیرکو موبایلونو په تر ټولو ستر تولیدي شرکت بدل شي. دغه شرکت تېر کال وتوانېد چې د ځیرکو موبایلونو د پلور نیمه برخه د ځان کړي او په دې سره له اپل مخکې شي او له سامسونگ وروسته دویم ځای خپل کړي. له ستونزو او بندیزونو سره سره چې د دغه شرکت پر توکو په امریکا کې لگول شوي دي، دغه چینایي شرکت هوډ کړی چې په ۲۰۲۰ ز کال کې سامسونگ شرکت هم شاته کړي او د نړۍ په کچه د ځیرکو موبایلونو د جوړولو په تر ټولو ستر شرکت بدل شي. د دغه شرکت مشر CNN ته ویلي، خپله ټوله هڅه یې په کار اچولې، څو په خپل برنډ کې د نویو بدلونونو په راوستو سره په نړۍ کې لومړی ځای خپل کړي.

هواوې شرکت تېر کال ویلي وو چې باید په ۲۰۱۸ ز کال کې لږ تر لږه ۲۰۰ میلیونه موبایلونه وپلوري، چې په ډېرې اسانۍ سره خپلې دې موخې ته ورسېد. اوس دغه شرکت ویلي چې غواړي د روان ۲۰۱۹ ز کال د مارچ په میاشت کې خپل نوي تولیدات بازار ته وړاندې کړي چې په لیدو سره به یې خلک گوته په غاښ شي.

## له وخته مخکې مو وېښتان سپينېږي؟



دا سمه ده چې د عمر په لوړېدو سره د انسان وېښتان سپينېږي، خو ډېرې کسان مخکې له دې چې زاړه شي، ان په ځوانۍ کې يې وېښتان سپين شي.

لامل او د حل لارې يې څه دي؟

تجربو ښودلې چې په بدن کې د فلزاتو کمښت، لکه مگنيزيم، روي، تيتانيوم او اوسپنه د سر د وېښتانو د سپينوالي او ماتېدو اصلي لامل دي. متخصصان په دې اند دي، هغه کسان چې له وخته مخکې يې وېښتان سپين شوي وي، بايد په خپل غذايي رژيم کې مڼې، ناک، شفتالو او هغه مېوې ور زياتې کړي چې ډول ډول فلزات په ځانگړې ډول مگنيزيم ولري. دغه راز ځينې سابه لکه اوړه، پياز، موسير او گندنه چې د مگنيزيمو ښه سرچينه بلل کېږي، وکاروي.

مټر، مرخېړي، لوبيا، نسک، سره بانجان، کېله، الو، سويا او کچالو هغه خواړه دي چې په زياته اندازه مس لري.

يوازې زړښت مو وېښتان نه سپينوي، بلکې د ويټامين B۱۲ کمښت، د ټايرويېد ناروغي او سگرېټ څکول د وېښتانو د سپينېدلو کچه څلور برابره لوړوي. د وينې کمښت، سخت او د ډېر وخت لپاره غذايي رژيم او ارثي لاملونه هم له وخته مخکې د وېښتانو د سپينېدو لامل کېږي.